# د عسکریت پسندو دوه حکمت عملۍ

**عبدالحئ کاکړ (بي بي سي)**

په پښتونخوا او خصوصاً په پېښور کښې به یوه زمانه کښې د دوو چاودنو ترمنځ د یوې هفتې وقفه وه یعنې صرف د جمعې په ورځ به خلقو د چاودنې ویره ظاهروله خو اوس چې په کومه ورځ چاودنه ونۀ شي نو خلقو سره د بلې چاودنې ویره وي.

تېرو یوولسو ورځو کښې پېښور کښې اتۀ چاودنې وشوې چې پکښې د یو سل دېرشو تنو نه زیات خلق شهیدان شو. څنګه چې پاکستاني فوځ په وزیرستان کښې مخ په وړاندې ځي او د عسکریت خوښو نه علاقې قابو کوي دغسې په ښارونو کښې د تشدد پېښې زیاتېږي.

عسکریت پسند د وزیرستان نه راوتلي خیبر، اورکزئ ایجنسۍ، کرمې، بکا خېلو بنو او شمالي وزیرستان ته رسېدلي دي بلکې باوري حکومتي او د طالبانو ذریعې وائي چې د پېښور درېو طرفو ته دغې خلقو ځانونه رارسولي دي او دېره شوي دي. دغه وجه ده چې پېښور ورته ډېر نزدې پرېوځي او په اسانه ورته د تخریب کارۍ دپاره راتلې شي.

په تېرو شوو او اوسنو فوځي کارروایو کښې یو لوئے فرق دا دے چې د جنرل مشرف په وخت کښې به د عسکریت پسندو زیاتې حملې په حکومتي ځایونو او سیکیورټي اهلکارو کېدې خو دا ځل عسکریت پسندو په یو وخت دوه حکمت عملۍ خپلې کړې دي. یو خو لکه د تېر وخت په شان په سیکیورټي ادارو او سرکاري املاکو حملې کوي او بل پله عام او بې ګناه خلق هم په چاودنو کښې وژني. د طالبانو او د هغوي د غېر ملکیانو جنګیالو په نظر کښې د پېښور عام خلق بې ګناه نۀ دي، د هغوي وېنا ده چې زمونږ خلاف کوم اپرېشن شروع دے دوي په هغې خاموشي اختیار کړې ده ځکه نو د دوي مثال د منافقانو دے او د منافقانو وژلو کښې هیڅ ګناه نشته بلکې ثواب دے.

د عسکریت پسندو د داخلي حلقو نه چې کوم معلومات حاصل شوي دي د هغې مطابق د پېښور عام خلق ځکه په نخښه کولے شي چې عوام د جمهوري حکومت خلاف راپاڅي او په حکومت دباؤ واچوي. د دوي په نظر کښې عام خلق په دې وجه هم قصوروار دي چې هغوي د فوځي کارروایو تماشه کوي او په دې هیڅ احتجاج نۀ کوي، دوي له پکار دي چې خپل منتخب نمائنده ګان مجبوره کړي چې هغوي طالبانو سره مذاکراتو ته تیار شي او دا مسئله په مذاکراتو حل کړي.

د دې نه قطع نظر چې د عامو خلقو په نخښه کولو سره طالبانو ته څۀ فائده رسي یا نه خو د دې فائده د پاکستان د حکومت مخالفې سیاسي ډلې او قوتونه پورته کوي ځکه چې هغوي عوامو ته بیا بیا دا وائي چې حکومت د عوامو په حفاظت کولو کښې ناکامه شوے دے. (ترجمه)